AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عیسی بهرام
۲۰۲۳/۰۷/۲۷

# ښه نه يمه

نه، نه غوسه نه يمه، ښه نه يمه
تا نه خپه نه يمه، ښه نه يمه

دا چي ډوب پروت يمه، بل خيال ونه کړې
هسي چپه نه يمه، ښه نه يمه

دا تيندکونه د ژوندون د زهرو
ګوره نښه نه يمه، ښه نه يمه

ستم تندي راته په ځمکه مښي
پروت په سجده نه يمه، ښه نه يمه

خيال مذبذب او مذبذب مي حال دی
په وسوسه نه يمه، ښه نه يمه

زه د خپل ځانه سره هم کلالی
ښه دلاسه نه يمه، ښه نه يمه

تا چي ها مست بهرام لېدلی ومه
زه اوس هاغه نه يمه، ښه نه يمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ